مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۱۰/۲۷

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم توک

دوه سوه او اته اتیایمه پرله پسي برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځې

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

د سرِ قول د علاقي لیري پرتي سیمي :

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ – تګاو غارک | | | |
| اولنګک | Ulangak | نکا هزاره ګان | ۲۰ |
| کلته توپ | Kaltatop | نکا هزاره ګان | ۲۵ |
| غارک | Gharak | نکا هزاره ګان | ۲۰ |
| تولټال | | | ۶۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲ – زرد ګاه «په نقشه کې زرد ګاو» د بند امیر په شمال ختیځ کې | | | |
| زرد ګاه خاص | | نکا هزاره ګان | ۳۰ |
| خاک داو | Khakdao | نکا هزاره ګان | ۳۰ |
| دِه بیبود/بهبود؟ | Deh Bebud | نکا هزاره ګان | ۱۲ |
| تولټال | | | ۷۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ – سیاه کک | | | |
| قره خوال | Karakhawl | نکا هزاره ګان | ۱۰ |
| سیاه کک | | نکا هزاره ګان | ۵ |
| تولټال | | | ۱۵ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د سرِ قول د علاقې د وګړو ټولټال شمېر ۴۸۵ کورنۍ دی او ټول ئې هزاره ګان دي. دې شمېر کې د فیروز بهار دوه کلي نـهٔ دي شامل چې په سرِ قول اړه لري.
د سرِ قول مشر میر مرتضی بیګ چې د ایلخاني له کورنۍ «د تره زوی؟» څخه دی. نوموړی د دې علاقې مالیات راټولوي او د بامیانو حاکم ته ئې سپاري.
څلورم : د خم آب علاقه داري :
دا علاقه داري د یک ولنګ له سینده کوزه واقع ده چې عمدتاً د دای زنګي له جرړې یا څانګې هزاره ګان په کې میشت دي او د «خمِ آبیانو» په نوم یادېږي. خمِ آب چې ددې علاقې نوم دی د اوبو د کږېدلو په معنی ده « کټ مټ د اکسوس پر غاړه خمِ آب په شان» ؛ دا نوم په حقیقت کې د سیند مارپیچ طبیعت ته یوه تلمیح یا اشاره ده. له بل لوري «قام» د «قوم» په معنی ده چې په قومي ویش کې کارول کېږي او هزاره ګان ئې په شفاهي ژبې کې همداسې کاروي. ویل سوي چې دوی په لاندنیو څانګو ویشل سوي دي :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کیریګو | Kirigu | قامِ سادات | قامِ ایده | Kam- i -Idah |
| حلوا خور | | قامِ متبال | Kam -i- Mattal | |
| بیګ علي | | قامِ صبوري | | |

همدا شان د پورته یاد سوي د «میر» (خان خیلو) د څانګې په هکله باید ووایو چې دوی په « کلاني» (مشرې څانګې) او «خوردک زي» (کشرې څانګې) ویشل سوي دي. میر علي بیګ او نور په لومړۍ څانګې اړه لري او د سبز درې فیض علي په دوهمې څانګې اړه لري. د مهدي بیګ کورنۍ د «لقمان خاني» [1] په نوم یادېږي چې «لقمان خان» [2] ئې نیکـهٔ وو. دا علاقه همدلته پیل کېږي چې سبز دره هم په کې شاملېږي؛ اوسمهال دا منځغري په یک ولنګ پورې اړه لري او د ایلخاني تر شخصي صلاحیت لاندې دي. لاندې د خمِ آب د کلیو نومونه او د وګړو شمېر وړاندې کېږي :

| کلي | | استوګن وګړي | | کورنۍ |
|---|---|---|---|---|
| سچک | Sachak | قامِ سادات | | ۱۰۰ |
| خواجه بیدک | | | | ۱۰ |
| چهل برج | | صبوري | | ۲۰ |
| سوختګي | | متبال | | ۶۰ |
| دهان زولیچ | | حلوا خور | | ۱۰ |
| د کلیګان کلا او د کیریګو کلی | | | | ۳۰ |
| دهانِ درهٔ چاشت | | * ګنګسو | Gangsu | ۱۰ |
| سیاه دره | | حلوا خور | | ۲۰ |
| مغس پرتاو | Maghspartao | *مینګک | Mingak | ۱۵ |
| | | ایده | Idah | ۲۰ |
| داهابِ مرغي | Dahab -i- Marghi | بیګ علي | | ۲۰ |
| | | **علاقـهٔ وزبیک ها | | ۲۰ |
| نو بالا مرغي : خمِ ګمبت | Nobala Marghi: Kham -i- Gumbat | ایده | | ۲۰ |
| پوزه آسیا، خلف شیر | Puza Asia, Khalaf Shir | علي بیګ | | ۳۵ |
| دعای شاه قدم | Do -ai Shah Kadam | کلان زي | | ۲۵ |
| خواجه کاو شاه | Khwaja Kaushah | کلان زي | | ۱۰ |
| امرتک | Amrutak | کلان زي | | ۱۰ |
| ټولټال | | | | ۴۲۵ |
| * که دقیق ووایو دوی «خمِ آبیان» نـهٔ دي. مینګک هزاره ګان عمدتاً د بلخ آب په ولسوالي کې دي؛ بلخ آب له خمِ آبه کوز راځي. | | | | |

[1] -Lukhman Khani
[2] -Lukhman Khan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

** د بلخ آب په ولسوالي کې د علاقه (Allakah) خلک هزاره ګان دي. دغه وزبیکان چې دلته یاد سوي دي کیدای سي کوم وخت له علاقه څخه دلته راغلي وي. کیداسي دوی د دې سیمې په سویلي انتها کې استوګنه ولري.

مهدي بیګ د خمِ آب د ولسوالي مشر دی، نوموړي په ۱۸۸۳ – ۱۸۸۴ز کال کې د نافرماني له کبله د خپل د صلاحیت د حوزې له ډېـرې برخې څخه محروم سو او اوس یوازې د مرغي مالیات راټولوي (چې د دهان مرغي او نو بالا مرغي سیمې په کې راځي.) ویل سوي چې نور خلک خپل مالیات مستقیماً بامیانو ته ورکوي.
د خمِ آب د ولسوالي خلک هر پسرلی او دوبی له خپلو رمو سره "ایلاقونو" ته ځي. چې د یک ولنګ په نورو برخو کې خلک داسي نـهٔ کوي.

**پینځم : بهارک یا غوربند**

دا د سیدانو یوه کوچنۍ علاقه ده چې له خمِ آب کوز موقعیت لري او کیدای سي دا ئـې یوه برخه وګڼل سي؛ دا علاقه په همدې لور کې د بامیانو وروستۍ سیمه ده؛ د تورکستان د بلخ آب ولسوالي له «سولج»[3] کوزه پیل کـېـږي.
لاندې د کلیو، د وګړو او نورو لیست وړاندې کـېـږي.

| **کلي** | | **استوګن وګړي** | **کورنۍ** |
|---|---|---|---|
| جو زري | Jaozari | هزاره سیدان | ۵ |
| ګا واره سنګ | Gawara Sang | هزاره سیدان | ۱۵ |
| غور بند او بهارک | | هزاره سیدان | ۵۰ |
| سولج | | هزاره سیدان | ۱۲ |
| | | **ټولټال** | ۸۲ |

ددې ځای مشران سید زلف علي او سید قربان دي چې هر یو ئـې د دې علاقې نیمه نیمه برخه لري.
د یک ولنګ د ولسوالي د وګړو لنډیز :

| | |
|---|---|
| یک ولنګ | ۱۲۲۹ کورنۍ |
| تګاو سید | ۷۷۹ |
| سرِ قول | ۴۸۵ |
| خمِ آبه | ۴۲۵ |
| بهارک | ۸۲ |
| **ټولټال** | ۳۰۰۰ کورنۍ |

دوی ټول له یوې مخې هزاره ګان دي، د تاجیکانو، وزبیکانو او آخوندانو شمـېـر دومره لږ دی چې په شمـېـرلو نـهٔ ارزیدل.
ویل سوي چې دا علاقه ټل آرامه او ډېـره تابع او منظمه ده او خپل مالیات له کومې ستونزې پرته ورکوي. داسې ښکاري چې مرحوم ایلخاني د ټولو حاکم او مشر وو، همدا رنګه، د امیر عبدالرحمن پر مهال اوسنی ایلخاني، محمد امیر خان، چې د هغـهٔ له جلوس وروسته هغه وخت مشر سو چې دا ولسوالي په علاقه وویشل سوه؛ دا ایلخاني اوس یوازې د خپلې علاقه دارۍ د یک ولنګ د مالیاتو مستقیم مسؤولیت لري. معهذا نوموړی د پام وړ نفوذ لري او په ۱۸۸۵- ۱۸۸۶ زکال کې دائم په بامیانو کې اوسیدهٔ او دلته ئـې د حاکم جان محمد خان د مرستیال په شان کار کاوهٔ. څرګنده ده چې له بل والي سره به د چارو بهیر په بل ډول وای. هماغسې مو چې پورته وویل، شاه رضاء بخش د ,,تګاو سید,, د علاقې مالیات راټولوي او مرتضی بیګ د ,,سرِ قول مالیات,, راټولوي حال دا چې که مهدي بیګ په خپله ناوړه چلند نـهٔ وای کړای نو د خمِ آبه د سیمې مالیات باید دهٔ راټول کړي وای.
**مالیات** : په دې ولسوالي باندې مالیات د هزاره ګانو د دود پر بنسټ د ځمکو پر څښتنانو اینودل سوي دي؛ «دهقانان» چې ځمکې نـهٔ لري او یوازې اجرتي کارګران او کښت ګران دی هیڅ مالیه نـهٔ ورکوي. د عمومي قاعدې په توګه د کورونو «کورنیو» مالیاتي ارزونه کـېـږي؛ خو ایلخاني د خپلې ولسوالي مالیه یوازې پر ځمکو ږدي. د ځمکوالو تناسب لوی دی چې څلور پر پینځو یا درې پر څلورو د ټولو وګړو دی. د یک ولنګ په ولسوالي کې ویل کـېـږي چې د ټول یک ولنګ د ۱۲۲۹ کورنیو په منځ کې تقریباً ۱۰۰۰ کورنۍ ئـې ځمکې لري.

3 -Sulij


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د تولې ولسوالي ماليات ۱۸۰۰۰ کابلۍ روپۍ ويل سوي دي. خو دا شمــېــره منحصراً د خمِ آبه او بهارک د سيمو ده. ددغو ځايونو د دقيقو مالياتو په هکله کره معلومات نـهٔ سته خو د مرغي چې يوازې مهدي بيګ ئـې د مالياتو د راټولولو مسؤوليت لري ويل سوي چې ۲۰ تومانه يا ۴۰۰ کابلۍ روپۍ ده چې د هر ځمکوال کور «کورنـۍ؟» پر سر ئـې ۱۴، ۱۵ او ۱۶ غيرانه ماليات ايښي دي. نو د همدې پر بنسټ د خمِ آبه او بهارک د مالياتو ټول ټال کيدای سي تقريباً ۲۰۰۰ کابلي غيرانو ته ورسېـږي.
د ايلخاني «مواجب» ويل سوي چې اساساً ۴۰۰۰ کابلۍ روپۍ دي. دا هغه مهال وو چې ايلخاني د تولې ولسوالي مسؤوليت پر غاړه درلود. نوموړی اوس يوازې ۵۰۰ کابلۍ اخلي چې له مالياتو ورته ورکول کـېـږي. کوچنيو ميرانو هم يو څه ترلاسه کول خو اوس هيڅ شی نـهٔ اخلي؛ دوی اوس بايد د خپلو ځمکو ماليات هم ورکړي چې پخوا د خپلو ځمکو د مالياتو له ورکړې څخه معاف ول. داسې ښکاري چې د هزاره ګانو دود دا دی چې د «مير» ښانګه يا د مشرانو کورنۍ د خپلو ځمکو هيڅ ډول ماليات نـهٔ ورکوي.
ايلخاني ۳۰۰ سپارهٔ لري «چې د زړې جيرې يوه برخه ورته قسماً په پام کې نيول سوې ده؟». دوی ته اوس د مالياتي معافيت يوه کوچنۍ برخه ورکول کـېـږي.
شاه رضاء بخش د سيد تګاو هم ډېـر "مواجب" اخيستل. اوس ورته ۴۰۰ روپۍ ورکول کـېـږي خو دا هم ويل سوي چې نوموړی ۴۰۰ سپارهٔ لري او دوی ته هماغه ډول جيره ورکول کـېـږي چې ايلخاني ئـې خپلو سپرو ته ورکوي.
ويل کـېـږي چې مرتضی بيګ نه کومه مستمري لري او نـهٔ سپارهٔ.
له دې کبله ددهٔ د علاقې د سرتــېــرو ونډه ۷۰۰ سپارهٔ دي. دوی چنداني ارزښت نـهٔ لري او يوازې د ډاګ يا پوستې په خدماتي چارو کې ورڅخه کار اخيستل کـېـږي.
توليدات او تدارکات : دې ولسوالي کې په حاصلخيزو تنګيو کې غنم او جوار په پريمانه اندازه کرل کـېـږي، همدا شان يو لږ اندازه ميوه هم لري او هم د باغي محصولاتو يوه لږه اندازه لري. خلک ښـهٔ او کوچني آسونه او کچرې ، همدا شان کورني څاروي ډېـر لري. دلته پسونه لږ دي، په خمِ آبه کې پسونه ډېـر دي.
تور – نصواري يعنې (دای – زنګي) (برک) [4] ټوکر په همدې علاقې کې ، هماغسې چې په باميانو کې ئـې نور هزاره ګان جوړوي، جوړېـږي او په کابل کې ډېـر پيرودونکي لري. ددې علاقې "ګليم" په ځانګړې توګه د خمِ آبه ګليمونه مشهور دی او سمدلاسه خرڅېـږي.
له باميانو څخه تر دولت يار او نورو ځايونو پورې عمومي سړک د زرې او د بکک د منځغرو له منځه تـېـرېـږي او مخ پر بکک کوتل ورځي. په قلندرانو کې تدارکات له ,,زري، دهٔ سرخ، کنک او شر شرې» [5] څخه راټوليدای سي چې د سپارهٔ ځواک د يوې کابلۍ ليوا ,, زموږ د بومي سپارهٔ ځواک له ۲ رسالو سره برابري کوي» د يوې مياشتې لپاره کفاف کوي. دومره اندازه په آساني سره راټوليدای سي. همدا شان په تقريباً يادې سوې اندازې تدارکات په بکک کې له ,,سياه درې، ,,نايتک» [6]، چهار دِه» او نورو څخه تر لاسه کيدای سي.
د ,,تګاو سيد» له علاقې څخه تدارکات چې د سپارهٔ ځواک د يوې کابلۍ ليوا د ۹ ورځو لپاره بس وي راټوليدای سي او د هغـهٔ سړک له لارې ئـې راوړای سئ چې ددې علاقې له منځه تــېـرېـږي.
له فيروز بهار څخه هم اړتيا توکي راټوليدای سي، د سرِ قول له علاقې څخه تدارکات چې د سپارهٔ ځواک د يوې کابلۍ ليوا د ۸ ورځو لپاره بس سي راټوليدای سي.
که د ځواک له يوې برخې څخه وغوښتل سي چې کوز د سيند د غاړو په اوږدو کې له تللې لارې څخه لاړ سي نو له لاندنيو ځايونو څخه تدارکات راټوليدای سی :
په «سبز دره» کې : له «کيليګن» او «سبز درې» [7] څخه ۶۰ خرواره وربشې او ۲۰ خرواره غنم. په سبز درې کې وربشې پريمانه کرل کـېـږي او ويل سوي چې بهوسه دلته په کيليګن کې د نورو ځايونو په تناسب ډېـره ده.
په سچک کې : له سبز درې او سچک څخه ۳۵ خرواره وربشې او ۱۵ خرواره غنم
په «سوختګي» کې ۲۰ خرواره وربشې او ۱۵ خرواره غنم.
په «دهانِ مرغي» کې : ۲۰ خرواره وربشې او ۱۵ خرواره غنم.

---

4 - barak : برک يو ډول پرېړ ټوکر دی چې د اوښ له وړيو جوړېږي - ژ
5 -Zari, Deh Surkh, Kanak, and Shurshur
6 -Naitak
7 -Kiligan and Sabz Dara


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په بله وینا کیدای سي یو زیرمتون جوړ سي یعني : په فیروز بهار، «کوچینک» [8] کي (کوچنیک یا کوهینک [9]، «قره خوال» [10] ته نېـږدې چي له غزني څخه سړک د زرد سنگ د کوتل له لارې تر بندِ امیر پورې راغلی دی او هم له بامیانو څخه تر دولت یار پورې سړک ورڅخه تـېـرېـږي دا دواړه سړکونه یو بل قطع کوي یا له بند امیر څخه، چي له تولي ولسوالي څخه په لاندې اندازه تدارک لري.

| | غنم په مونډ | وربشي په مونډ |
|---|---|---|
| د یک ولنگ له ولسوالي څخه | ۷۵۰ | ۲۷۰۰ |
| د تگاو سید له علاقي | ۱۱۰ | ۴۰۰ |
| د سر ِ قول له علاقي | ۱۰۰ | ۳۶۰ |
| د خم ِ آبه له علاقي | ۱۰۴۰ | ۲۴۸۰ |
| ټولټال | ۲۰۰۰ | ۵۹۴۰ |

که د برتانوي هند د پلي فرقي یو ځواک چي سپاره او توپچي ځواکونه ورسره مل وي او بل د سپاره ځواک ډله چي له ۲ لیواگانو څخه جوړه وي «عمدتاً له ۴۰۰۰ جنگیالیو، ۱۲۰۰۰ د کمپ ملازمینو، ۲۰۰۰ آسونو او ۵۰۰۰ کچرو او کوچنیو آسونو څخه جوړ ځواک وي» د همدې ولسوالي له لارې تـېـر سي نو په پورتنی اندازې خوراکي تدارکات راټولیدای سي چي د سرتـېـرو د ۳ ورځو لپاره بس کـېـږي او د څارویو لپاره د ۱۳ یا ۱۴ لپاره بس کـېـږي.
د تدارکاتو دا اندازه موږ ته د ولسوالي د رسمي مقاماتو له پلوه راکړل سوې ده. کیدای سي تر دې ډېـر غنم تر لاسه سي. که دا غنم په سیمه ییزه توگه تر لاسه سي نو دلته پریمان ژرندې سته چي اوړهٔ ئـې کړي خو د غنمو د ټولولو او د اوړو کولو لپاره باید له ۱۵ تر ۲۰ ورځو لپاره موده اختصاص سي.
د خمِ آبه له علاقي څخه د ددې علاقي د اوړو په اندازې حیواني غوړي هم تر لاسه کیدای سي. کمبودات کیدای سي له بهسودو، یعنی د بند بابا له سویلي سیمي څخه چي هلته تولیدات پریمانه دي پوره سي. د یک ولنگ په درې کي واښهٔ پریمانه دي؛ دلته په پسرلي او دوبي کي د بار وړونکو څارویو لپاره پووندې ډېـرې دي.
**بامیان** : ۴۹ – ۳۴، ۴۹ – ۶۷ : بامیان د بامیانو په ولایت کي د یوې ښارگوټي او یوې ولسوالي نوم دی. دا ولسوالي ۲۱۷۸ کیلومتر مربع مساحت لري او د وگړو شمـېـر ئـې افغان سرچینو د ۱۳۵۴۹ تر ۱۴۱۸۰ تنو تر منځ اټکل کړی دی. دا وگړي بزگري پرگنې دي. دا ولسوالي په لویدیځ کي له یک ولنگ، په شمال کي له سیغانو، په ختیځ کي د شیر له ولسوالیو او په سویل کي د روزگانو او میدان له ولایتونو سره کرښه لري. بامیان تقریباً ۵۸ کلي لري چي ۱۰ کلي ئـې له ۵۰۰ ډېـر وگړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دی :

| گلستان | آق رباط | گنبد | شهیدان |
|---|---|---|---|
| باریکي — Bariki | دروازهٔ شهیدان | لډو — Ladu | خواجه حسن |
| جم قلعه — Jum Qala | دهانِ جو پالال<br>Dahan -i -Jaw Palal | بام سرای — Bam Saraye | بیر سونه و سیاه خاک<br>Bersuna wa Siyah Khak |
| پای کوتل «تکیر» | تاجک | توپچي | چیراستوغي — Cherastughi |
| سر ِ قول | جوی شهر | تي بو تي — Tibuti | جرگه خیل |
| حیدر آباد | شیبر تو | شیر قد «شیو قد»<br>Sher Qad (Shew Qad) | قافله باشي |
| فت مستي — Fatmasti | قازان — Qazan | قرغنتو — Qarghanatu | میانه قول |
| قولِ سرخ جوی «کته سنگ» | کټوري «کټ ویي»<br>Katuri (Katwaye), | گروان — Gorwan, | لعل خیل |
| ملایان — Mulayan | میانه قد «میانه قدِ تکیر» | نو روزي | داهودي — Dahudi |
| کتوک و تمیر «کتوک» | دوست بیگ «فولادي» | خشک راک جرده «خشکک چپ دره<br>Khosh Rak -i -Jadra (Khushkak -i -Chap Dara) | خمِ کیلک — Kham -i- Kelak |

[8] -Kochinak
[9] -Kohkinak
[10] -Kara Khawal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| خواجه روشني و بیر سونه | خور لنكاش «خولنكاش» Khor Lankash (Kholankash) | دهانِ آهنگران | دوكاني Dokani |
| دشتِ عیسی خان | زکریا وبورغستون Zekriya wa Borghastun | سر ِ آسیاب | سرِ آهنگران «آهنگران کالو» |
| سرخ در | سبزک | سوماره/ سومره Somara | سیاه لایک Siyah Layak |
| سید آباد | فقیرگا Faqirga | تنگي باریکي | میان ِ ولایت |
| زوتي Zuti | زوجک | سلطان | میناره |
| کماتي Kamati | چاردهي | (لودویگ آدمک) | |

بامیان په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی :
دا د «کوهٔ بابا» د بابا د غرهٔ - ژ» په شمالي اړخ کې یوه ولسوالي ده. دا ولسوالي د اساسي غرنی لړۍ د شمالي مهمیزونو په بلافاصله لمن کې واقع ده چې له ټولو منځغرونو او ژورو درو سره په دې ولسوالي راغلي دي. شمال ته ئې د دوآب او د سیغان ولسوالي دي؛ ختیځ ته ئې د شیخ علي سیمه ده؛ او سویل ته ئې بیسود/ بهسود- ژ دی. لویدیځ ته ئې د بامیانو د سیند او د بند امیر د روډ د اوبو د سرچینو تر منځ اوب یللونکی یا آبریز دی چې د یک ولنګ د ولسوالي اوبهٔ په ځان کې راټولوي. په یک ولنګ کې په قوم تکانه دای زنګیان اوسېږي؛ په ۱۸۸۶ز کال کې د دای زنګي ټوله سیمه د بامیانو د والي د اختیار تر ساحې لاندې وه ؛ کیدای سي تر اوسه پورې په بامیانو پورې اړه ولری. دا ځایونه د خپلو اړوندو سرلیکونو او نومونو لاندې شرحه سوي دي چې د بامیانو د وګړو او د سرچینو احصائیې په کې راغلي دي. د یک ولنګ او دای زنګي سیمې د بامیانو « د ولسوالي» تر سرلیک لاندې راغلي دي."
ددې ځای هوا په ژمي کې شدیداً سړه ده، لوړوالی ئې په استوګنو سیمو کې د ۷۰۰۰ او ۱۱۰۰۰ فیټو تر منځ ده. قلعهٔ سرکاري ۸۳۵۰، قرغنتو ۱۰۸۴۵، آق رباط ۹۹۵۵ او قلعهٔ درویش ۹۳۰۰ فیټه لوړوالی لري. د بامیانو له سینده کوز، «جلمیش» [11] ۶۶۳۰ فیټه لوړوالی لري.
کلا ګانې یا د دنګو دیوالونو لرونکي کلي په درې کې خوارهٔ وارهٔ دي، دلته د کورونو داسې مرکزي تجمع نـهٔ سته چې د بامیانو ښارګوټی ئې ونوموو. میتلند د (خم له کوتل) [12] «۱۱۶۶۰ فیټ لوړ» ښخه ختیځ خوا ته د بامیان – بند امیر اوب یللوونکي یا آبریز ته په کتلو د سیمې د عام منظر په شرحې کې وایي چې دا سیمه وچه، بې ونو او لم یزرع سیمه ده، د میتلند سترګوته د بامیانو دره په داسې یوې تشې کې راغلې چې ښۍ خوا ته ئې د بابا د غرنی لړۍ دنګ لوړ سطوحات او کیڼ خوا ته ئې کوهٔ غندک واقع دی. هغه سړک چې د کوتل له ختیځه راغلی دی د هغو منځغرونو یا میان کوه ګانو له منځه تـېـرېـږي چې خلک په کې استوګن دي، دا سړک ددغو منځغرونو د اوبو د راټولیدلو د لارو له سره تـېـرېـږي او بیا قلعهٔ سرکاري ته ځي چې په ۲۷ مایل کې د بامیانو مرکز دی. ۲/۱ - ۹ مایله کښته، دره د کالو د منځغري له خولې کوز یو ناڅاپه مخه شمال ته اړوي او په یوهٔ نرۍ تنګي بدلېږي چې د «او درې / آب درې – ژ» په نوم یادېږي. د بامیانو او سیغانو سیندونه په نغاره خانه کې له یو بل سره یو ځای کـېـږي، حال دا چې د کهمرد سیند له دو آبِ میخ زري ښخه راځي او په دې توګه لوی سیند ورڅخه جوړېـږي چې د سرخاب د سیند په نوم یادېږي ؛ همدا سیند له څه مزل وروسته د آق سرای یا کندز د سیند په نوم یادېـږي. قلعهٔ سرکاري ته نېږدې د درې ارتوالی تقریباً نیم مایل دی؛ دلته سیند په مني کې کم عمقه وي او یوازې څو یارده ارتوالی لري.
هغه اساسي او مهمې لارې چې له دې ولسوالي ښخه په تقاطع تـېـرېـږي دا دي :
د کابل - تورکستان سړک چې د شیبر اود کتر سم د کوتلونو له لارې تـېـرېـږي؛
د کابل – حاجي ګک او د کابل – عراق سړکونه؛ او
د یک ولنګ سړک چې تر دولت یار پورې تللی دی.
له شماله نور سړکونه : «چپ کولک/ قولک – ژ» [13] د «غندک کوه» له پاسه څلور بـېـلابـېـلې لارې او د «زر سنګ» سړک؛ په سویل کې د بابا غرنی لړۍ یو غیر قابل نفوذ مانع جوړوي؛ سویل ختیځ ګوټ کې د «کوتل کف زر» [14] او د عراق، حاجي ګک په استثنا کومه بله عملي لاره نـهٔ سته. له دې کبله موږ وینو چې تر کابله د بابا د غرهٔ د کوتلونو له لارې ټول سړکونه په «زهاک» کې سره یو ځای کـېـږي او ددې ځای ستراتیژیک ارزښت له دې څرګند دی چې دلته د لرغونو مهالونو د نامتو بالاحصار پاتې شوني لا تر اوسه پاتې دي. له دې کبله د بامیانو اهمیت د هغهٔ د موقعیت له کبله

11 -Jalmish
12 -Kham Kotal
13 -Chap Kolak
14 -Kotal -i- Kafzar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دی چې دلته کوم ځواک ځای پر ځای سي نو کولای سي پورته یاد سوي کوتلونه تر پوښښ لاندې ونیسي او له تورکستانه تر افغان پلازمیني پورې عمومي لاره کنترولولای سي.
میتلند د بامیانو د استوګنو وګړو په هکله لاندني معلومات وړاندې کوي :« په دای زنګي او یک ولنګ کې د استوګنو دای زنګیانو» په نـهٔ پام کې نیولو سره، د خاص بامیان په استوګنو وګړو کې ځلور په پینځمه (صفر اعشاره اته فیصده ـ ژ) ئـې هزاره ګان دي، حال دا چې له تنګې درې لړ. ورها خوا ئـې ټول تاجیکان او سیدان میشت دي چې د بامیانو د وګړو پاتې برخه جوړوي. ورپسې ئـې بامیانو ته نېـږدې سیغان او کهمرد راځي چې په افغان تورکستان پورې اړه لري. په سیغانو کې هم لږ شمـېـر هزاره ګان سته، دوی خپلې رمې په دوبې کې په دې ولسوالي کې پیایي.
د بامیانو ختای یا درغان هزاره ګان [15]
د بامیانو په ختیځې انتها کې هغه هزاره ګان استوګن دي چې په لومړیو کې ئـې په بهسودو کې استوګنه لرله چې تقریباً ۱۰۰کاله مخکې له اوب یللونکې یا آبریز څخه راواوښتل او په اوسني موقعیت کې ځای پر ځای سول. دغو خلکو زموږ د معلوماتو راټولوونکي ته وویل چې دوی «ختای» دي خو پیکاک چې دوی ئـې ډیر لیدلي دي په لایتغیر ډول ئـې د «درغان» [16] په نوم یادوي. په حقیقت کې دوی د ختای د قبیـلې د درغان له ښانګې څخه دي. ختای هزاره ګان د هزاره ګانو له اساسي یا اصلي ویش څخه یوه ښانګه ده او غټ شمـېـر ئـې د «باب علي» [17] په نوم یادېـږي چې د کندهار د تـیرین او د دهراوټ له ولسوالیو سره ګاونډي یا قسماً ګاونډي دي. «وګورئ : هزاره ګان»
د درغان یا ختای هزاره سیمه عمدتاً د کالو، عراق، بولوله له منځغرونو څخه جوړه ده چې په بهسودو کې په «خار زار» [18] منتهي کـېـږي او له کابله تر بامیانه عمومي لاره اوس د حاجي ګک د کوتل له لارې تـېـرېـږي، دا لاره د ۱۸۸۶ز کال تر پایه پورې د عراق د تنګې درې له لارې تـېـریدله. دواړه سړکونه په ژمي کې بند وي او یوازې له شیبر څخه کار اخیستل کیدهٔ.
له شیبر څخه ختیځ خوا ته لاره د شیخ علي ددرې پر لور تللې او د بولوله د منځغرونو د اوب یلوونکي شمال خوا ته جلمیش دی چې شیخ علي وګړي په کې میشت دي او په دې توګه درغان هزاره ګان تر یوې کچې د همدې قبیـلې د دوه وو ښانګو تر منځ واقع کیږي.
د کالو حدود د حاجي ګک او د کف زار د کوتلونو له اوب یللوونکي څخه ان تر ګنبت «ګنبد ـ ژ» پورې غځیدلي دي؛ ددې درې ډېـرې برخه حاصلخیزه ده چې نیم مایل ارتوالی لري. دا دره د درغان هزاره په ټولو سیمو کې ډېـره ګڼ وګړي او ګڼ استوګنې سیمه ده. داسې ښکاري چې کالو خپل نوم ځکه ټولې دغې سیمې ته ورکوي چې د بامیانو د یوې علاقه دارۍ په توګه پـېـژندل کـېـږي.
د استوګنو درو او منځغرونو عام لوړوالی له ۸۰۰۰ تر ۱۰۰۰۰ فیټو پورې دی. د سیمې غرني جوړښت ته په کتلو بیا هم په کې د پام وړ کرهنه سوې ده او خلک ئـې د میوو یو شمـېـر بڼونه لري. د غنم، وربشو او دال تر څنګ، ګازرې او شلغم هم کرل کـېـږي. همدا شان، درغانیان د وزو او پسونو رمې، لږ شمـېـر آسونه او په اوسط شمـېـر کې غواګانې هم لري.
دوی هم د نورو هزاره ګانو په شان د برک ټوکر، جوالونه، خورجینې او نور جوړوي. دوی په کوچنیو کلاګانو یا په دیوالونو کې محصورو کلیو کې ژوند کوي چې تر ګرد چاپیره ئـې دیوالونه راتاو دي؛ دوی د پووندو لپاره ایلاقونو ته نـهٔ ځي. دوی د ډېـریو نورو هزاره ګانو برعکس په ژمي کې کابل یا کوم بل ځای ته د کار موندلو لپاره نـهٔ ځي؛ او که ولاړ هم سي په ډېـر لږ شمـېـر کې ځي. کیدای سي دا ددې نښه وګڼو چې دوی نسبتاً ماړه خلک دي. ددوی جامې کټ مټ ددوی د ګاونډیو تاجیکانو د جامو په شان دي او آرام او غیر جنګي خلک ښکاري.
لاندې د درغان هزاره ګانو شرحه د هغوی د ښانګو پر بنسټ ورکول کـېـږي :
د بامیانو د ولسوالي ختای یا درغان هزاره ګان :

| ښانګې | | موقعیت | | د کورنیو شمـېـر | کتنه / ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| شیخا | | شیبر او بولوله | | ۲۸۰ | دغه ۸۰۰ کورنۍ ټولې دبولوله او عراق په تنګیو او د ګاونډیو په کوچینو درو کې ژوند کوي او د سید بخش خان تر مشرۍ لاندې |
| شاخ | Shakh | بیرګي لیچ | Birgilich | ۱۲۰ | |
| ګدي | Gudi | دره جوله او دره شمبول | | ۱۰۰ | |
| خیده | Khida | عراق، یو شمـېـر په شمبول او بولوله کې | | ۳۰۰ | |

15 -The Khatai, or Darghan, Hazaras of Bamian
16 -Darghan
17 -Babali
18 -Kharzar

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | دي چې نوموړی د خیده له څانګي څخه دی. |
| مرکدم/ مقدم؟ ژ | Markadam | پای موري، جوقول او کالو | ۱۹۰ | دا ۲۷۰ کورنی د کلبي حسین خان تر مشری لاندي دي |
| آهنګران | | آهنګران او «صدبرګ؟» | ۸۰ | |
| قراه چي | The karachi | کالو او ګاونډي تنګي ئـي | ۲۰۰ | دا ۳۳۰ کورنی د غلام حیدر خان تر مشری لاندي دي |
| خواجه جمعه | | بر یا پورتنی کالو | ۱۳۰ | |
| ټولټال | | | ۱۴۰۰ کورنی | |

پورتني معلومات د صوبه دار محمد حسین له لیست سره د ځلورم توک د ۴۱۲ پاڼي د شمـېـرو په پرتلي ډېـر نـېـږدې والی لري او ټولو شته وو معلوماتو له دقیقي مقایسي وروسته دې باور ته ورسیدلو چې دا باید تقریباً صحیح معلومات وي.
یوازې څانګي کیدای سي د جدول له ظاهري مخي سره ګډې سوې وي.
«کلبي حسین» د ټولو مشر دی او د شیرعلي خان د سلطنت پر مهال ددې ټولي علاقې د مالیاتو د راټولولو مسؤول وو. خو د عبدالرحمن خان د سلطنت له مهاله وروسته نوموړی پر ټولو باندې له خپل پخواني صلاحیت څخه معزول سوی او یوازې د خپلو اړوندو خلکو مسؤولیت پر غاړه لري. داسي ښکاري چې دی دې یوازې د کوز «کالو» مسؤول ووي : «غلام حیدر خان» ته بر یا پورتني «کالو» ورسیدلی دی حال دا چې د ددې قبیلې اکثریت په «بولوله او عراق» او نورو کې ژوند کوي او د «سید بخش خان» تر مشرۍ لاندي دي.
د صوبه دار محمد حسین د معلوماتو پر بنسټ له «درغان هزاره ګانو» څخه اخیستل کیدونکي مالیات تقریباً ۷۰۰۰ کابلی روپۍ کـېـږي چې په نقدو ورکول کـېـږي نـهٔ په جنس.
د بامیانو نور هزاره ګان : د بامیانو د درې په سویلي اړخ کې څو لوی منځغرونه دي چې د «بند بابا» تر سر پورې تللي دي. په دغو درو کې تر ټولو مهمه او تر ټولو لویه دره ئـي «دره فولادي» نومېـږدي چې کورنی برخه ئـي د «تګاو تاجیک» په نوم یادیـږي. «تګاو تاجیک» کې تاجیکان استوګن دي او په «درهٔ فولادي» کې «فولادي هزاره ګان» میشت دي ؛ شک نـهٔ سته چې دوی د «مالستان او آجرستان» له څانګې څخه دي چې شرحه ئـي بل چیرې راغلي ده. ددوی په هکله ډېـر لږ معلومات په لاس کې دي یوازې دومره معلومات سته چې دا خلک ۱۰۰۰ کورنی دي او مشر ئـي «میر بابا بیګ» نومیدهٔ چې په ۱۸۸۶ – ۱۸۸۶ زکال کې په کابل کې زنداني وو؛ ډېـره موده سوې چې له هغه څخه کوم معلومات په لاس کې نـهٔ سته.
د «درهٔ فولادي» ختیځ ته په لنډ واټن کې «تګاو سید آباد» دی چې د هزاره ګانو تقریباً ۲۰۰ کورنی لري او ظاهراً له ګډو هزاره قومونو څخه دي. د هزاره د ګډو قومونو تقریباً ۱۰۰ کورنی په «ګمبت/ ګنبد – ژ او آق رباط» کې سته چې د بامیانو د درې په سر کې سیغان ته د تللي سړک په اوږدو کې او همدا شان د سیغان په ولسوالي کې د اوب یللونکي پر سر، په «چپ کولک»، «نورک»، «ګور او» [19] او نورو ځایونو کې دي چې ۱۲۵ هزاره کورنی کـېـږي او یو شمـېـر ئـي «فولادي» هزاره ګان دي.
له بامیانو څخه لویدیځ لور ته د دولت یار له لارې هرات ته تللی سړک، چې د یک ولنګ له لارې تـېـرېـږي، له ۳ درو څخه تـېـرېـږي، ددغو درې واړو درو اوبـهٔ د بامیان په سیند کې راټولیـږي. دا درې د شهیدانو، شیبر تو او کرغنتو درې دي. دغو درو کې عمدتاً هزاره ګان میشت دي. د شهیدانو په درې کې «ینګور دای زنګي» [20] وګړي دي چې «۱۵۰ کورنی دي»؛ په شیبرتو کې «خوب زت فولادي» [21] دي چې «۹۰ کورنی» دي؛ او په «کرغنتو کې «شاه ګم بیګ هزاره ګان» [22] دي چې د ګومان له مخې «تکانه دایزنګي» [23] دي خو اوس د یک ولنګ له تکانه هزاره ګانو سره لږ راکړه ورکړه لري.
بلاخره د سیغانو په سر کې په «سید بابا» کې او ور څخه پورته په منځغرونو کې چې د «خارګین»، «بیګال» او «او درې» [24] په نومونو یادیږي د «بیګال» هزاره ګانو تقریباً ۸۰ کورنی ژوند کوي چې دوی هم «تکانه یان» دي.

[19] -Chapkolak, Naorak, Ghorao
[20] -Yangur Dai Zangis
[21] -Khubzat Fauladis
[22] -Shahgum Beg Hazaras
[23] -Takana Dai Zangis
[24] -Khargin or Begal and Ao Dara


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په غیر و لولئ

پورتني ياد سوي دومره مهمه نـۀ دي چې ځانګړې شرحه ئـې ورکړو. دغه خلک کټ مټ د تاجيکانو په شان جامې اغوندي. دوی ظاهراً آرام او سوله ناک خلک دي.
په کهمرد کې هيڅ هزاره نـۀ

## نور بيا
## په کهمرد کې هيڅ هزاره نـۀ...

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ